داکتر صلاح‌الدین سعیدی

۲۰۲۶/۰۲/۲۳

# پر ناروا اوعدم دقت تېنګار مه کوئ!

خبره ښکاره ده!
تراویح( قیام اللیل ) له ۴۰-۲ رکعتو پورې ثابته نوافل دي!
که څوک د نفلي عبادت سره ختم القرآن هم کوي، ثواب لري!
قیام اللیل ( تراویح) بدعت او شپږم لمونځ نه دی!
د جهاي صیب دا بحث دده مسلک نه دی! دښمنان یې ارت او پراخ تبلیغوي او اول لیکي چې د ملي سرود لیکوونکی !...
دلته ستر دسایس او فتنې رواني دي!
انسانان معصوم له ګناه او تخلف نه دي، او جهاني صیب له دې قاعدې مستثنی نه دی!ً جهاني صیب د تراویح په هکله اظهاراتو که غیر دقیق او تېروتلي اظهارات کړي او اظهارات یې کره نه دي!
او هو سیدنا حضرت عمر (رض) د اسلام د وخت د خلیفه په توګه دا مسایل تنظیم کړي!
د آنحضرت د تنظیم په هکله تنظیم ته تردید، د ستر دقت او لازم احتیاط اړتیا شته! او دقت پکار دی!
نفلي عبادت چې هرڅومره کوې ، شرایط او توان یې لرې، ستا کار دی!
د نفلي عبادت له تعهد او نیت نه مخکې نه کول، کومه مواخذه نه لري او د مسلمان وجیبه نه ګرځی! خیرات غوښتل او سوالګري د اسلام په دین کې منع او د موقتو شرایطو پرته حرام کار دی چې ته کار نه کوې چې فرضي ( واجب) رزق تر لاسه کړې او له سهاره تر ماښامه او شپې تراویح ( قیام اللیل) اونفلي عبادت کوې او د اوداسه کې د مستحب استنجا، لپاره د کابل د سیند په غاړه ناست او ستر عورت لوچوې چې مستحب کار ( استنجاء) وکړې او یا غلا کوې ، رشوت او وطن پلورنه کوې، چې حج او عمرې ته ولاړشې او د ۴ ښځو د جواز لاندې له شرایطو پرته ، ښځې کوې، د اسلامي جزایی سیستم ( عقوبات - حدود او تعزیرات ) د افراط او تفریط سره جاهلانه، تطبیقوې او ... دا ستا تخلف او ستا مسؤولیت دی او ته به ځواب وایې! په دغه خاطر سیکولارانو او د اسلام مخالینو او دښمنانو ته وسله په لاس، مه ورکوئ!
د حدېثو ( امر، نهی، فعل، سکوت ) د ټولولو او کتابي کولو او د حدیثو تقسیم، قوت او ضعف د راوي په اتبار، اوږد بحث دی او د اصول حدیث علم ( اصول حدیث علومو) ، د تفسیر علومو او ... پوهې ته اړتیا هم شته! دا پوهې سره څوک نه دی زیږېدلای او دا باید له پوې نقطې پیل شي او دا د هر مسلمان حق دی! څوک له دې پروسې نه شي منع کولای!
د اسلام په تاریخ کې تیروتنې او د خوارجو د فرقو کړنې ، او مسلکانانو کې خپلمنځي مرګ او ژوبله، اوږد بحثونه او دا انساني تېروتنې، پواځې د اسلام د دین مشخصه نه وه او نه ده!
د بشري تاریخ په اوږدو کې پیامبران، مصلحین، مبلغین او امامان د جهالو او دښمنانو له خوا تر اوسه، عیسی ع او کوپرنیک په شمول، ډېر تعذیب او وژل شوي!
دا مسایل مختلف ابعاد لري!
د تراویحو ( قیام اللیل ) په هکله د جهاني صیب ورستیو اظهاراتو او تېروتنو ته ښکاره موقف پاس او سیده لنډ دي!
تاسې یې ورته ورسوئ! ما هڅه کړې ورته ور ورسوم! داکتر ناشناس ته مې حداقل درې مستقمو ناستو کې دا معلومات ورکړل!
معینې کړې دي، چې داکتر ناشناس یې هسې خراب کړ او دادی جناب جهاني خرابوي!
انتخاب د لوستونکي او جهاني صیب دی!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

الله ج دې مونږ ټولو ته د نیکی هدایت وکړي!
الله (ج)دې د هیچا خاتمه نه خرابوي!

دحل لار: پر حق اقرار شهامت دی او د حق په لار تلل، ثواب لري! دلته تکبر او بې ځایه غرور زوال لري!
جناب عبدالباري جهانی دې ولیکي او ووایي چې خپلو دغه اظهاراتو کې په دغه مورد کې، تېروتلای او الله ج دې را ته عفوه وکړي! قصه ختمه!
منطقی بحث خو دا هم دی ی سیدنا عمر رض د اسلام دوم خلیفه، اسلام ښه پېژنده که ما او تا؟!

پر ناروا، لجاجت ګناه او سپکاوی راولي او لري!
جهاني صیب د قدر وړ شخصیت او د هغه په آدرس سپکه خبر مونږ خفه کوي!

و من الله التوفیق!
داکتر ص سعیدي
۰۰۴۴۷۸۸۶۴۷۴۶۳۸


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ